## پناه غوښتونکو ته لارښوونه : د کډوالو په اداره کی د اړوندو کارونو سر ته رسونه

### مهمه ده چې پری پوه شی

- د تلفون له لیاری ستاسی د پناه غوښتنی اړوند کارونو ته معلومات نه ورکول کیږی، ځکه چې د تلفون له لیاری د تلفون کوونکی هویت نه شی څرګندیدلای.
- تاسی یی په معلوماتی بروشور کی هم کتلای شی Tietoa turvapaikanhakijalle. همدارنګه کولای شی زموږ له انترنتی پاڼی څخه هم ډیر معلومات تر لاسه کړی www.migri.fi.
- که تاسی د خپلی پناه غوښتنی په موضوع کی کوم سوال لری، لومړی د خپل قانونی مرستندوی یعنی وکیل سره او یا د اوسیدو د مرکز د کارکونکی یعنی مامور  سره اړیکه وه نیسی.
- خپله هم کولای شئ یوازی د پوستی اړیکی په وسیله د خپلی موضوع په حکله د کډوالو له اداری څخه ، PL 18, 00581 Helsinki معلومات تر لاسه کړی،
- ستاسی د اوسیدو مرکز ستاسی د پناه غوښتنی په حکله پریکړه نه شی کولای، همدارنګه ستاسی د غوښتنی په سرته رسولو یا پریکړه باندی هم کوم تاثیر نه شی اچولی.

### ستاسی د پناه غوښتنی د مرکی یا مصاحبی د پوښتنو په حکله

- د کډوالو اداره تاسی ته د پناه غوښتنی د مرکی یعنی مصاحبی له پاره وخت نیسی. تاسی اړتیا نه لرئ چې د کډوالو له اداری سره په دی حکله اړیکه وه نیسی. د بلنلیک منتظر اوسی، کوم چې د کډوالو اداره یی ستاسی د اوسیدو مرکز ته استوی. ستاسی د اوسیدو مرکز خپله تاسی ته د بلنلیک د رسیدلو په حکله خبر درکوی.
- په بلنلیک کی د ژباړنی ژبه، د مرکی یعنی د مصاحبی د ځای دقیق ادرس او  ساعت لیکل کیږی وه یی لولی. په بلنلیک کی د ژباړونکی او مرکچی یعنی مصاحبه کوونکی نومونه نه لیکل کیږی.
- د مرکی یعنی مصاحبی د ټاکل شوی وخت بدلون امکان نه لری. خو که ناروغ یاستی، په بیړه د خپل اوسیدو د مرکز له کارکونکی یعنی مامور سره اړیکه وه نیسی.

### که د پناه غوښتنی د موضوع له پاره مو مرستندوی په کار وی

- تاسی حق لرئ چې قانونی مرستندوی یعنی وکیل وه لری.
- که قانونی مرستندوی یعنی وکیل ته اړتیا وه لری، د قانونی مرستندویانو یعنی د وکیلانو له اداری سره اړیکه وه نیسی. د اړتیا په وخت کی ستاسی د اوسیدو مرکز تاسی سره مرسته کوی.
- وکیلان په عمومی ډول په مرکو یعنی مصاحبو کی ګډون نه کوی. وکیلان په ډیرو ځانګړو حالاتو کی فقط هغه وخت په مرکو یعنی مصاحبو کی ګډون کوی چې د هغوی موجودیت د قوی دلایلو له مخی ضرور وی. وکیلان په خپله خوښه په مرکو یعنی مصاحبو کی د ګډون پریکړه کوی او قانونی مرستندویه ادره پریکړه کوی، چې وکیل ته په مرکه یعنی مصاحبه کی د ګډون له پاره د هغه د حق الزحمی پیسی ور  کوی.
- که تاسی پناه غوښتونکی بی له مور یا پلار یعنی پرته له والدینو څخه د قانونی عمر څخه ښکته د کوچنیوالی په عمر کی راغلی یاستی، ستاسی استازی تاسی ته حقوقی مرستندوی یعنی وکیل نیسی.

### که غواړئ چې اضافی څرګندونی واستوئ یا ځان پوه کړی، چې اضافی څرګندونی مو ور رسیدلی

- د اړتیا په وخت کی ستاسی قانونی مرستندوی یعنی وکیل یا ستاسی د اوسیدو د مرکز کارکوونکی یعنی مامور تاسی سره مرسته کولای شی.

**که تاسی د کار کولو د حق په اړه پوښتنې لرئ**

- ستاسی د اړتیا وړ د کار کولو د حق په برخه کی معلومات زموږ په دغه انترنتی پاڼه کی پیدا کولای شئ http://www.migri.fi/turvapaikka_suomesta/tyonteko-oikeus:
- که چیری کار پیدا کړئ، ستاسی د کار مالک باید دقیقه کړی، چی ستاسی د کار کولو حق تمدید شویدی. د کار مالک کولای شی د تلفونی اړیکی له لیاری هم دا خبره دقیقه کړی. د تلفون نمره زموږ په انترنتی پاڼه کی پیدا کولای شی چی یواځی د کار د مالکانو له پاره ده.
- تاسی ته هم په کار ده چی د کار مالک ته وه وایئ، چی ستاسی د کار کولو د حق موده پای ته رسیدلی ده.

**که تر مصاحبی وروسته غواړئ پوه شئ، موضوع مو په کوم حالت کی ده یا دا چی ایا پریکړه شوی ده**

- په مصاحبه کی تاسی ته د موضوع د څیړلو له پاره اټکل شوی موده په نخښه کیږی، چی په جریان کی یی نوی اټکل کیدونکی موده نه شی نخښه کیدلای.
- که د درکړل شوی اټکلی مودی نیټه پای ته رسیدلی وی، ستاسی وکیل یا ستاسی د اوسیدو د ځای کارکوونکی یعنی مامور کولای شی د اړتیا په وخت کی د کډوالو د اداری سره اړیکی وه نیسی.
- ستاسی د غوښتنلیک د څیړنی اټکل شوی موده کله کله له خپله وخته زیات دوام کوی. کولای شئ زموږ په انترنتی پاڼه کی په منځنی یعنی اوسط ډول د پناه غوښتنی د څیړلو موده وه ګوری http://www.migri.fi/nain_palvelemme/kasittelyajat
- د خپل غوښتنلیک حالت او وضع نه شئ کولای د نورو سره پرتله یعنی مقایسه کړئ، ځکه چی د څیړلو موده په هغه حالت کی اوږدیږی چی غوښتنلیک مو په کومه اندازه نورو څرګندونو ته اړتیا لری.
- که تاسی د خپل غوښتنلیک د بیړنی څیړنی له پاره کوم دلایل لرئ، د خپلی موضوع په حکله لومړی د خپل قانونی مرستندوی یعنی وکیل سره او یا د خپل استوګنځی د کارکوونکی یعنی مامور سره خبری وه کړی. بیړنی غوښتنه په لیکلی توګه دغه لاندی ادرس ته استول کیږی : Maahanmuuttovirasto, PL 18, 00581 Helsinki.
- پر له پسی تلفونی اړیکی ستاسی د موضوع څیړل نه را مخته کوی یعنی نه رالنډوی.

**د کډ والو د اداری تر پریکړی وروسته ستاسی د څیړل شوی موضوع په حکله ستاسی پوښتنی**

- د خپل قانونی وکیل سره او یا مو د استوګنی د ځای د کارکوونکی یعنی مامور سره اړیکی وه نیسی.
- که له پریکړی څخه مو شکایت ورلندی کوی، سوالونو ته مو هغه څوک ځواب وایی، چیرته چی ستاسی موضوع تر څیړنی لاندی نیول کیږی، لکه اداری محکمه او یا ستره اداری محکمه